# د یوحنا رسول دوهم لیک

## د کتاب پېژندنه

د یوحنا رسول دوهم لیک یوې غوره مېرمنې او اولادونو ته یې د ۸۵ نه تر ۹۵ میلادي کلونو په شاوخوا کې لیکل شوی دی. د غوره شوې مېرمنې معنی په هغه ځای کې سیمه ایزه کلیسا ده، او د هغې اولادونه د هغې کلیسا د غړو په معنی ده. کومو خلکو چې دا لیک تر لاسه کړی دی، یوحنا هغوی هڅولي دي چې د عیسی سره مینه وکړي، یو د بل سره مینه وکړي او په خپل ایمان کې ټینګ پاتې شي. یوحنا د دروغجنو استاذانو په هکله خبرداری ورکوي او هغوی ته وایي چې که چېرې کوم څوک درشي او هغه تعلیم درنه کړي چې مسیح درکړی ؤ، هغه په خپل کور کې د مېلمه په توګه قبول نه کړئ.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱ – ۳

د مینې غوره والی: ۴ – ۶

د غلطو عقیدو په هکله خبرداری: ۷ – ۱۱

وروستي خبرې: ۱۲ – ۱۳



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سلامونه

١ د ايماندارانو د مشر له خوا د خدای غوره شوي ميرمنې او د هغې اولادونو ته چې په رښتيا راباندې ګرانه ده، يوازې په ما باندې نه، بلکې په هغو ټولو باندې چې د حقيقت څخه خبر دي، ٢ د هغه حقيقت په خاطر چې په مونږ کې دی او تل ترتله به زمونږ سره وي.

٣ د پلار خدای او د هغه زوی عيسی مسيح فضل، رحم او سلامتي دې وي په مونږ باندې، ترڅو دا ټول په مونږ کې چې په حقيقت کې اوسېږو او يو د بل سره مينه کوو پاتې وي.

## حقيقت او مينه

٤ کله چې ما واورېدل چې ستا ځينې اولادونه لکه څنګه چې پلار مونږ ته حکم کړی دی په رښتيني لار روان دي، نو ډېر خوشحاله شوم. ٥ اوس ای ګرانې ميرمنې! زه ستاسو نه يوه غوښتنه کوم چې د خدای خلک بايد د يو د بل سره مينه وکړي. داسې فکر مه کوه چې زه تاته کوم نوی حکم ليکم بلکې دا هماغه حکم دی چې له پيل نه مونږ ته راکړل شوی ؤ. ٦ دا مينه داسې ده چې مونږ بايد د خدای په حکمونو باندې عمل وکړو. دا هماغه حکم دی چې تاسو له پيل نه اورېدلی دی او هغه حکم دا دی چې تاسو بايد په مينه کې ژوند وکړئ.

٧ ډېر غولوونکي په نړۍ کې خواره شوي دي چې دا نه مني چې عيسی د انسان په جسم نړۍ ته راغلی دی. داسې خلک غولوونکي دي او د مسيح دښمنان دي. ٨ خبردار اوسئ چې مونږ د کوم څه دپاره خواري کړې ده چې هغه لاسته راوړو، هغه برباد نه شي بلکې خپل پوره اجر تر لاسه کړو.

٩ هرڅوک چې د مسيح په تعليم باندې ټينګ پاتې نه شي او د هغه نه وګرځي، نو خدای د هغه سره مل نه دی. خو که چېرې څوک د هغه په تعليم باندې ټينګ ولاړ وي نو د هغه سره به پلار او زوی دواړه مل وي. ١٠ که چېرې کوم څوک تاسو ته راشي او هغه تعليم درنه کړي چې مسيح درته درکړی ؤ، هغه په خپل کور کې د ميلمه په توګه قبول نه کړئ او تر دې چې سلام هم ورته ونه وايئ. ١١ ځکه چې هرڅوک چې هغه ته سلام ووايي نو هغه د هغه په بدو کارونو کې شريک دی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## وروستنی خبري

۱۲ زما سره ډېري خبري شته چي غواړم تاسو ته يې وليکم، خو زه نه غواړم چي هغه تاسو ته په قلم او کاغذ باندي وليکم. زه په دي هيله يم چي راشم او تاسو ووينم او مخامخ درسره خبري وکړم ترڅو زمونږ خوشحالي پوره شي. ۱۳ ستا د غوره شوي خور بچيان درته سلام وايي.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.9066
د ختيځ افغانستان ۲۰۲۱ © afghanbibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.